## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**26میزان_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د ننګرهار ولایت مهاجرینو رییس د مهاجرینو چارو له وزیر سره ولیدل---------------------------------------------- 1

د افغانستان اسلامي امارت په ایران کې د یو شمیر افغانانو د شهادت او زخمی کیدو په اړه ----------------------------- 1

کار یک پروژه ترمیم شبکه های آب و تهیه مواد ساختمانی در ولایت لغمان آغاز شد--------------------------------- 2

بغلان کې د ځانګړو اړتیاوو کسانو قضیو ته د رسیدنې په موخه ناسته وشوه------------------------------------------ 2

توزیع کمک نقدی برای صد ها خانواده در ولایت لغمان آغاز شد ------------------------------------------------- 3

یونان : د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې د دوو کوچنیو ماشومانو په ګډون څلور تنه مړه شوي ---------------------- 4

اروپايي کمیسیون وايي له اروپا څخه بهر باید د بېرته ستنولو مرکزونه جوړ شي --------------------------------------- 6


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د ننګرهار ولایت مهاجرینو رییس د مهاجرینو چارو له وزیر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت




**د ننګرهار ولایت مهاجرینو رییس حاجي بازمحمد عبدالرحمن، د تلې په ۲۴ مه نېټه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو له وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره ولیدل.**

**په دې لیدنه کې چې د ننګرهار ولایت مخکیني مرستیال والي مولوي سید احمد بنوري هم ګډون درلود، د مهاجرینو رییس د مهاجرینو وضعیت، فعالیت، بشپړ شویو پلانونو او د مهاجرینو او راستنېدونکو سره د مرستو په تړاو له ښاغلي حقاني سره معلومات شریک کړل او په دې برخه کې یې د همکارۍ غوښتنه وکړه.**

**ښاغلي حقاني د نوموړي له خدمتونو ستاینه وکړه او د یاد ولایت مهاجرینو رییس ته یې د ستونزو حل په برخه کې ډاډ ورکړ.**

## د افغانستان اسلامي امارت په ایران کې د یو شمیر افغانانو د شهادت او زخمی کیدو په اړه

د وزارت ایکس پاڼه

**نن چې په رسنیو کې د ایران او پاکستان پر ګډه پوله د یو شمیر افغانانو د شهادت او زخمي کیدو په اړه ځینې ګنګوسې خپرېږي، په دې اړه د افغانستان اسلامي امارت بیلابیل ارګانونه او دیپلوماتیکي استازولۍ پلټنې او تحقیقات کوي، داچې د پیښې سیمه له هیواده بهر ښودل کیږي، تر اوسه معلومات نه دي کره شوي، د موضوع تر روښانتیا وروسته به په دې برخه کې لازم تصمیم ونیول شي.**

**ملا حمدالله فطرت**




**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## کار یک پروژه ترمیم شبکه های آب و تهیه مواد ساختمانی در ولایت لغمان آغاز شد

ویب سایت وزارت



به اساس گزارش ریاست مهاجرین ولایت لغمان،کار پروژه ترمیم پنج شبکه آب رسانی، تهیه مواد ساختمانی ۱۳۰ باب تشناب، بسته های صحی، تست آب چاه های آشامید نی و برنامه های آگاهی دهی در آن ولایت بتاریخ ۲۴ میزان آغازشد.

این پروژه از جانب موسسه AHF به ارزش حدود دونیم میلیون افغانی در شهرک مهاجرین در قریه عزیزخان در ولسوالی قرغه یی طی مراسمی با حضور شماری از مقامات محلی آن ولایت آغاز شد.

با آغاز کار پروژه یاد شده زمینه کار برای ده ها تن فراهم شده و پس از تکمیل شدن آن ۲ هزار و ۳۶۹ خانواده که شامل بیجاشده، برگشت کننده و مردم محل به آب آشامیدنی سالم دسترسی خواهند داشت.

## بغلان کې د ځانګړو اړتیاوو کسانو قضیو ته د رسېدنې په موخه ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**په بغلان ولایت کې د ځانګړو اړتیاوو  لرونکو کسانو قضیو ته د رسېدنې په موخه د تلې پر ځلیرویشتمه د اړوندو دولتي ادارو او موسسو د استازو په شتون کې ناسته وشوه.**

**د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو رییس محمد ابراهیم عمري د ځانګړو اړتیاوو د قضیو د حل په برخه کې د دغه ریاست د فعالیتونو لنډیز او دغه راز یې پیاوړتیاوې او نیمګړتیاوې بیان کړې او د چارو او خدمتونو په وړاندې کولو کې یې پر روڼتیا او رښتینولۍ ټینګار وکړ.**

**د بغلان د مهاجرینو د راستنېدنې آمر په روان میلادي کال کې دغه ولایت ته د راستنو شویو مهاجرینو شمیرې او ارقام چې ماشومان، ښځې او نارینه دي او د دوی لومړنۍ اړتیاوې چې د سرپناه جوړول، خوراکي او غیر خوراکي توکي، پاکې اوبه، کارموندنه او د کار رامنځته کول پکې شامل دي بیان کړې. نوموړي د ځانګړو اړتیاوو لرونکو کورنیو او قضیو ته د رسېدنې په برخه کې د پروګرام په اړه لنډ معلومات ورکړل.**

**وروسته د ناستې ګډونوالو خبرې وکړې او د خپلو همکاریو ډاډ یې ورکړ.**

## توزیع کمک نقدی برای صد ها خانواده در ولایت لغمان آغاز شد

ویب سایت وزارت




**توزیع کمک نقدی برای ۴۰۰ خانواده در ولایت لغمان به تاریخ ۲۴ میزان آغاز شد.**

**خانواده های که از این کمک مستفید میگردند شامل نیازمندان و برگشت کننده گان بوده که قبلاً مورد شناسایی قرار گرفته بودند.**

**این کمک در دو بخش مبلغ ۲۱ هزار و ۵۰۰ و ۱۷ هزار و ۵۰۰ افغانی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان در نظر گرفته شده است که با حضور نماینده ریاست مهاجرین توزیع میگردد.**

## یونان : د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې د دوو کوچنیو ماشومانو په ګډون ځلور تنه مړه شوي

مهاجرنیوز





یوناني چارواکي وايي چې د دغه هېواد د کس ټاپو په اوبو کې د کډوالو د یوې کښتۍ ډوبېدو امله دوه ښځې او دوه کوچني ماشومان مړه شوي دي. له دې پېښې څخه ۲۷ تنه نور ژغورل شوي دي.

اژه سمندر کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې د تېرې سه شنبې په شپه دوه وړوکي ماشومان او دوه مېرمنې وژلې دي. د یونان د ساحلي ځواکونو د ویاند په خبره، له دې پېښې څخه ۲۷ تنه نور ژغورل شوي چې یو تن یې د انساني قاچاق په تور نیول شوی دی.

د یوناني د ساحلي ځواکونو په خبرپاڼه کې راغلي دي چې چارواکو د احتمالي لادرکه شویو مهاجرو د موندلو په موخه یې پراخ عملیات ترسره کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د اکتوبر په څلورمه هم شپه مهال د یاد ټاپو په اوبو کې د کډوالو یوې بېړۍ د ساحلي ځواکونو له کښتۍ څخه ټکر وکړ.

ساحلي ځواکونو په یوه اعلامیه کې ویلي وو چې دغې ربړي بېړۍ «په قصدي ډول» د چارواکو له کښتۍ سره ټکر وکړ چې له امله یې ټول مهاجر اوبو ته وغورځېدل. د اعلامیې له مخې، له دې کښتۍ څخه د یوې نجلۍ په ګډون چې بې هوښه شوې وه ۲۵ کډوال ژغورل شوي وو.




کس ټاپو ترکي سواحلو ته څېرمه موقعیت لري. انځور: ګوګل مپز

**ګاودوس ته نږدې د ۹۶ کډوالو ژغورنه**

**د یو بل خبر له مخې، یوې مال وړونکې بېړۍ د چهارشنبې په ورځ ګاودوس ټاپو ته نږدې ۹۶ مهاجر ژغورلي دي. د دغو کډوالو کښتۍ د ګاودوس کوچني ټاپو ته څېرمه ډوبه شوه چې په مدیترانه کې موقعیت لري.**

**د یونان ساحلي ځواکونو ویلي دي چې د احتمالي لادرکه شویو کسانو د موندلو په موخه یې د هوا او سمندر له لارې عملیات ترسره کړي دي.**

**له تېرو څو کلونو راهیسې زیات شمېر کډوال هڅه کوي چې د اژې سمندر له لارې په کښتیو کې له ترکیې څخه ځانونه یوناني ټاپوګانو ته ورسوي. یو شمېر نور بیا د لیبیا له سواحلو څخه د کریټ ټاپو پر لور حرکت کوي. پر یوناني ځواکونو تور دی چې پر خپلو پولو له کډوالو سره ناسم چلند کوي او د مهاجرو کښتۍ له خپلې خاورې څخه په شا تمبوي .**

**بي بي سي په جون میاشت کې د یو راپور په خپرولو سره ویلي وو په تېرو درېو کلونو کې د ترکیې او یونان ترمنځ اوبو کې د یوناني چارواکو له خوا د کډوالو په شا تمبولو پېښو په ترڅ کې کې ۴۳ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی .د دغو مهاجرو له ډلې ۹ تنه یې د چارواکو له خوا سمندر ته غورځول او ډوب شوي وو. خو یونان بیا د دغو تورونو په ردولو سره له خپل پرسونل څخه دفاع کړې او او ویلي یې وو چې دوی «د خپلو نړیوالو مکلفیتونو سره سم عمل» کوي.**

**د ملګرو ملتونو د رسمي شمېرو له مخې، د روان کال له پیل څخه تر سپتمبر پورې څه باندې ۳۹ زره کډوال له ترکیې او لیبیا څخه یونان ته اوښتي دي. ډېری دغه کډوال د افغانستان، سوریې او یا د مصر وګړي دي.**

## اروپايي کمیسیون وايي له اروپا څخه بهر باید د بېرته ستنولو مرکزونه جوړ شي

مهاجرنیوز



د اروپايي کميسيون مشرې ارزولا فون دېر لیین د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو ته د يو ليک په استولو سره ليکي دي چې غواړي د ايټاليا و البانيا له تړون څخه «درس» واخلي .نوموړې وړانديز کړی دی چې بې اسناده کډوال له اروپايي ټولنې څخه بهر د بېرته ستنولو مرکزونو ته ولېږدول شي.

د اروپايي کميسيون مشرې ارزولا فون دېر لیین د دوشنبې په ورځ د اکتوبر ۱۴ د اروپايي ټولنې ۲۷ غړو هېوادونو ته د يک ليک په استولو سره وويل چې په پام کې لري چې د بې اسناده بهرنيانو د اخراج پروسې د اسانولو په موخه يوه نوې قانوني مسوده معرفي کړي.

نوموړې په دغه ليک کې وړانديز کړی دی چې بې اسناده کډوال بايد هغو استوګنځيو ته واستول شي چې په دريمو هېوادونو کې موقعيت لري او «دستنېدنې مرکزونه «نومېږي. دغه وړانديز له اروپايي ټولنې څخه بهر په دريمو هېوادونو کې د پناه غوښتونکو د توقيف او د بېرته ستنولو مرکزونو جوړېدو ته لار پرانيځي.

»د اروپايي ټولنې د ارزښتونو ضد» وړانديز

ارزولا فون دېر لیین ليکلي دي : «موږ بايد له اروپا څخه بهر د ستنېدو مراکزو د جوړېدو امکان وڅېړو، په ځانګړې توګه د ستنېدو په اړه د يوې نوي قانوني تګلارې په چوکاټ کې«.

دغه چارواکې ايټالوي موډل ته په اشارې سره ويلي دي چې د ايټاليا د لومړی وزيرې جيورجيا ملوني او د البانيا د لومړي وزير ادي راما ترمنځ له لاسليک شوي تړون څخه بايد «درس» واخيستل شي.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د روم و تیرانا ترمنځ تړون د ۲۰۲۳ په پای کې لاسلیک شو .هغه وخت د البانیا حکومت ومنله چې د کډوالو دوسیې د څېړلو په موخه په خپله خاوره کې دوه مرکزونه پرانیځي. د دغه تړون پر اساس، د ایټالیا چاروکو د چهارشنبې په ورځ د کډوالو لومړۍ ډله البانیا ته واستوله .دغه ۱۶ مهاجر چې د مصر او بنګله دېش وګړي دي د تېرې یکشنبې په ورځ د ایټالیا ساحلي ځواکونو له خوا د مدیترانې په سمندر کې نیول شوي وو.

د ایټالیا او البانیا د تړون له مخې، هر کال به شاوخوا ۳۶ زره کډوال د بالکان دغه هېواد ته واستول شي، خو په دې شرط چې له خوندي هېوادونو څخه راغلي وي او زیان منونکي – ښځې، کم سنه کډوال، روحي ناروغان، د شکنجې، جنسي ځورونې او یا د غلامۍ قربانیان – نه وي.

د اروپايي ټولنې ۱۵ هېوادونو، په ځانګړې توګه ایټالیا او هنګري، د فون دېر لیین د دغه وړاندیز هرکلی کړی دی. خو یو شمېر چارواکي بیا دا وړاندیز غندلی دی. اروپايي پارلمان کې د فرانسې د رنیو ګوند غړې فابین کېلر دغه وړاندیز «د اروپايي ټولنې له ارزښتونو سره په ټکر» کې او «د نه منلو وړ» بللی دی.

د «ستنېدنې» پر تګلارې بیا کتنه

ارزولا فون دېر لیین په خپل لیک کې د اروپايي ټولنې د یو شمېر هېوادونو د غوښتنې په ځواب کې لیکلي دي، په دغه مسوده کې «د اخراجېدونکو کډوالو [د ایستلو] په برخه کې د همکارۍ واضح مکلفیتونه» او «په موثره توګه د اخراج پروسې عقلاني کول» په پام کې نیول شوي دي.

هغه غواړي چې د «ستنېدنې» پر تګلاره هم بیاکتنه وشي. دا وروسته له هغه چې د اروپايي ټولنې د کورنیو چارو وزیرانو د تېرې پنجشنبې په ورځ لوکزامبورګ کې د مهاجرتي سیاستونو پر سر خبرې اترې وکړې. په دغه غونډه کې یو شمېر هېوادونو وړاندیز وکړ چې د کډوالو د »ستنېدنې» تګلاره چې په ۲۰۰۸ کې تصویب شوې باید له سره وارزول شي. فرانسې او جرمني د هالنډ او اتریش له هغه وړاندیز سره موافقه وکړه چې له مخې به یې اخراجونه باید چټک شي .

دغه تګلاره له اروپايي ټولنې څخه دربمو هېوادونو ته د بې اسناده کډوالو د استولو شرایط تعریفوي او کډوالو ته اجازه ورکوي چې د استیناف غوښتنه وکړي. د یادې تګلارې له مخې، اخراجېدونکي کس ته باید د «داوطلبانه » ستنېدنې لپاره له ۷ څخه تر ۳۰ ورځو پورې وخت ورکړل شي، مګر دا چې د تېښتې خطر یا عامه نظم ته ګواښ موجود وي.

یاده تګلاره کې دا هم راغلي دي چې بې اسناده کډوال په اروپايي ټولنه کې حداکثر ۱۸ میاشتې په بند کې ساتل کېدی شي. دغه بهرنیان له اروپايي اتحادیې څخه تر اخراج وروسته د ۵ کلونو لپاره د یادې ټولنې ۲۷ هېوادونو ته نه شي راګرځېدلی.